څوک چې په شپه کې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه کوي

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې په شپه کې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه کوي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: څوک چې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه د شپې پر مهال ولولي نو الله تعالى د هغه لپاره بسنه کوي چې له هرې بدۍ او مصيبت څخه يې وساتي. او داسې هم ويېل شوي چې (معنا يې دا ده چې) دا آيتونه ورته د شپې له تهجدو څخه بسنه کوي، او ويېل شوي چې له نورو ټولو اذکارو څخه ورته بسنه کوي، او ويېل شوي چې دا تر ټولو کم هغه څه دي چې بايد د شپې په تهجدو کې ولوستل شي او داسې نورې ويناوې هم شوي دي، او کېدای شي ټول هغه څه چې پدې اړه وويل شول سم وي ځکه چې دا الفاظ ورته شاملېږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6274